


**احمدشاه بابا نومیالی اتل، غښتلی، توریالی او پیاوړی ملي شخصیت:**

احمدشاه بابا زموږ د هیواد هغه نامتو، باتوُر، هوډمن، پتمن او مدبر شخصیت وو، چې په توُره او میړانه یې د لوی او سرلوړي افغانستان تاریخ روښانه او ځلانده ساتلی وو.

دی نه یوازې زموږ د هیواد یو زړه ور واکمن، ننګیالی، حق پالونکی او مېړنی پاچا وو، خو د کلک هوډ او ملي ارادې یو ستر او پیاوړی تاریخي شخصیت هم وو.

ده په تورُه، تدبیر او میړانه کې نه یوازې کلک عزم او لوړ همت درلود، بلکې د خپل اوچت قلم او ځپاند استعداد او وړتیا له لارې یې د ادب او فرهنګ ډګر هم تود ساتلی وو. دی فرهنګپال او فرهنګیال شخصیت وو او د پښتو ادب په غیږ کې یو خوږ ژبی، ولسي، با احساسه او ملي شاعر هم وو.

«**خدای بخښلی احمد شاه بابا**» د زمان خان زوی د دولت خان لمسی او د سرمست خان کړوسی وو په ختېه ابدالي سدوزی وو. دی پر **(۱۱۳۵)** هجري کال کې چې له **(۱۷۲۲)** زیږدیز کال سره سمون خوري، په **هرات** کې زیږېدلی دی، مشر ورور یې ذوالفقار خان نومېده چې یو ځواکمن، غښتلی بادرکه او با احساسه انسان وو او د  خپل پلار له مړینې څخه وروسته د هرات د حاکم په توګه یې دنده لرله.

دا یو څرګند حقیقت دی، **مور د ژوند ستره هستي او لویه شتمني ده**، چې په خپلو وږمو، وړانګو او شغلو یې په ټولنه کې تورې او تپې تیارې روښانه او رڼا کړېدي. مور د خپل  کور د کړی رڼا یي ده، لکه شمع په اور کې سوزي، تر سحره بلېږي خو د خپل کور خوا و شا ته رڼایي راولي.

**د احمدشاه بابا مور زرغونه نومیدله په ختېه الکوزی وه.** د ده مور هغه درنه، پتمنه، سپېڅلې او زړه سوانده میرمن وه، چې دخپلې پوهې، لوړ سوچ، اند او فکر

په وسیله یې له کوچینوالي څخه د احمدشاه بابا روزنې او پالنې ته ځانګړې پاملرنه درلوده او هم یې وروسته کله چې احمدشاه بابا د هیواد د مشر او واکمن په توګه وټاکل شو، په ډېرو سلطنتي چارو کې یې هغه ته غوره مشورې ورکولې او مرسته به یې ورسره کوله.

کله چې د احمدشاه بابا پلار زمان خان له نړۍ څخه سترګې پټې کړې، دی یو کلنۍ ته لا نه وو رسیدلی.

احمدشاه بابا له خپل مشر ورور ذوالفقار خان سره له هراته کندهار ته راغی هغه وخت دی اته یا نه کلن وو. شاه حسین هوتکي له دې وېرې چې ابدالیان به د ذوالفقارخان په مشرۍ د ده د واکمنۍ لپاره ګواښ جوړ کړي، دی یې د خپل ورور سره یو ځای په تنکۍ ځوانۍ کې ونیول او په بندي خانه کې یې بندیان کړل. د بندیتوب نېټه یې په کندهار کې له **(۱۷۳۱ )** زېږدیز کاله تر **(۱۷۳۸)** زېږدیز کاله پورې وه. احمدشاه بابا کابو شپږ کاله د **شاه حسین هوتک** په بندیخانه کې وو او د ځوانۍ د ودې او پر مختګ مهمه دوره یې هلته تېره کړه. د لیکوالو او څېړونکو د څېړنې پر لاسوند دا هغه دوره ده چې  احمدشاه بابا د خپل ادبي او فرهنګي استعداد، لوړتیا او پوهې له لارې تصوف او ادب ته پاملرنه کړیده.

نادر افشار پر**( ۱۷۳۸)** زېږدیز کال کې کندهار ونـیـوُ او احمدخان  یې له خپل ورور ذوالفقار خان سره یو ځای له زندانه خلاص او مازندران ته تبعید کړل. پر دغه مهال احمد خان شپاړس یا اوه لس کلن ځوان وو. ذوالفقار خان هلته مسموم او ووژل شو او احمد خان په مازنداران کې پاتې شو.

احمد خان (۲۰) کلن ځوان وو، چې د نادر افشار دربار ته ورسېد او نادر افشار هغه په خپل لښکر او پوځ کې د افسر په توګه وټاکه. دی هغه تکړه، فعال او با استعداده نظامي افسر وُ ، چې د خپلې ځانګړې نظامي پوهې او زړه ورتیا په وسیله نادر افشار د ابدالي او اربکي پوځ مشري ور وسپارله، او وروسته یې د خپلو ساتندویانو د مشر په توګه وګماره.

احمد خان د نادر افشار هغه ځوان، میړنی، غښتلی او پیاوړی نظامي افسر وو، چې د هند په فتوحاتو کې له نادر سره ملګری او په دې برخه کې یې اغیزمنه ونده درلوده. دی هغه مدبر او هوډمن شخصیت وو، چې د خپل ځانګړي استعداد او وړتیا له لارې یې د ادارې، جګړې او سیاست په برخه کې ګټور ازماېښت ترلاسه کړي وو، او د سیاسي او ټولنیز ژوند د بېلابېلو ستونزو، کړاوونو، پېښو او حوادثو پر مهال یې ترخې او خوږې خاطرې درلودې او له دغو حالاتو او خاطراتو نه یې ډېر څه زده کړي وو. د نادر افشار په دربار کې یې د بېلابېلو خلکو سره لیدنې شوې وې او د پوځیانو په منځ کې د یو وتلي، پیاوړي او زړه سوانده نظامي افسر په توګه د دوی په زړونو کې خپل ځانګړی ځای، پوړۍ او مقام درلود. ده د خپل پټمنو او درنو ولسونو سره ژوره مینه درلوده او پر خلکو ډېر ګران وو او وګړو ورته د زړه له کومې درنښت او درناوی کاوه. کله چې نادر افشار د ایران په خبوشان کې د خپلو ساتونکو له خوا ووژل شو، په دې مهال کې احمدخان ابدالي (۲۵) کلن تنکۍ ځوان وو، د خپلو عسکرو او د افغان ځواکونو د سرانو په مرسته د نورو لښکریانو له زور زیاتي

او تېري څخه د نادر افشار کورنۍ او اولادونه یې له بې سترۍ او زیان او ضرر څخه وژغورل او وساتل، او دولتي خزانې او وسلې یې خوندي وساتلې.

**د نادر افشار میرمنې د احمدخان ابدالي** د غیرتي او غوره چوپړ او خدمتونو په بدل کې ده ته د «**کوه نور الماس او نور جواهرات**» ډالۍ کړل.

پدې مهال کې نور محمد خان علیزي د احمدخان سره یو ځای د خپلو عسکرو سره ګډ د قندهار په لور وخوځیدل او هلته یې د ابدالیو، ازبکو، تاجکو، بلوڅو، غلجیو او هزاره ګانو د مشرانو او خانانو په ګډون پر(**۱۱۶۰ هجري** ) کال د رجب مـیـاشت، چې د (**۱۷۴۷**) زیږدیز کال د اکتوبر له مـیـاشتې سره سمون خوري د (**شیر سرخ بابا په زیارت**) کې جرګه جوړه کړه، او له مشرانو څخه یې وغوښتل چې د خپلواک افغانستان لپاره مشر وټاکي او د ولس په مشوره، مرسته او خوښه په هیواد کې یو ملي واک ټینګ شي. جرګې نه ورځې دوام وکړ. خو پدې و نه توانیدل چې څوک د ملي مشر په توګه وټاکي ځکه هر خان او هر مشر غوښتل چې هغه د دې هیواد د لاربښود ځای ونیسي، یوازې په جرګه کې ځوان احمد خان څه نه ویل او د پادشاهۍ خوبونه یې نه لیدل. پر نهمه ورځ د زیاتو بحثونو څخه وروسته جرګې پریکړه وکړه. «**پیر صابر شاه کابلي**» چې یو روحاني او صوفي مشربه درویش او بې پرې سړی وو د پریکړې کوونکي په توګه وټاکي. هغه وو، چې نوموړي په دغه جرګه کې د احمدخان په تړاو د پام وړ خبرې او د ده ښېګڼې یې بیان کړې او د دوی له منځه پاڅیده له نږدې کروندې نه یې د غنمو وږي وشکول او د احمدشاه بابا په دستار کې یې ور وتومبل. لاسونه یې پورته کړل دعا یې وکړه او ویې ویل

چې «**احمدشاه**» **زموږ پاچا دی،** سره له دې چې ځوان دی خو د تدبیر او مېړانې له مخې بابا دی. په جرګې کې ټولو ناستو کسانو د احمدشاه ټاکنه، په یوه خوله ومنله او احمد خان احمدشاه شو، بابا شو او د افغانستان پاچا شو. جرګه، ګډونوالو په خپلو مبارکیو لا پرتمینه کړله.

کله چې احمد شاه بابا د پاچا په توګه انتخاب شو او د هیواد د مشرتابه مسئوولیت یې تر لاسه کړ، دی په هیواد کې دننه په ټولو حالاتو او وضعیت ډېر ښه پوهیده او د ګاونډي هیوادونو د نظامي او سیاسي اکربکر ورته ډېر ښه څرګند وو. همدا وجه وه چې ده ته د یو خپلواک دولت جوړولو شرایط مساعد وو. ده د خپل دولت د ټینګښت لپاره دوې مهمې مسلې ته ژوره پاملرنه وکړه: له ټولو هیوادوالو څخه یې لومړنۍ پوښتنه دا وه چې قبیلوي اختلافات پرېږدي او د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا د سیاسي او ملي وحدت د ټینګښت لپاره سره یو موټي شي، د قباېلو مشرانو له خوا د احمد شاه بابا دغه غوښتنه ومنل شوه، همدا وجه وه چې د دوی د ملي یووالي، اتحاد او اتفاق په وسیله احمدشاه بابا له سترو بریاوُ او بریالیتوبونو سره مخامخ شو. دویمه مسله د یو غښتلي او ځواکمن ملي پوځ جوړول وو. دې کار ته یې هم ژوره پاملرنه وکړه او یو غښتلی او منظم پوځ یې جوړ کړ. په هیواد کې د ننه یې د یو ټینګ سیاسي وحدت پر بنسټ یو غښتلې اداره جوړه او سولیز ژوند او امنیت یې ټینګ کړ نو بیایې په لښکر کښیو او فتوحاتو لاس پورې کړ. په دې کې شک نه شته چې د دغو پورتنیو خبرو پر بنسټ د یو متحد او خپلواک هیواد جوړول یو کلک، ټینګ او پولادي عزم، روښانه سوچ، اند او فکر او بشپړ تدبیر ته اړتیا وه،

چې له نیکه مرغه دا ټولې ښېګڼې د احمدشاه بابا په وجود کې یو ځای شوي وو. احمدشاه بابا هغه درونډ، د ټینګ هوډ او ملي ارادې شخصیت وو، چې د ولس په خوی و بوی، دود او دستور ښه پوهیده او دا هم ورته معلومه وه چې د ولس مشران د هیوادوالو په لارښوونه کې مهم اغیز لري. همدا وجه وه چې ده یوه مشورتي شورا جوړه کړه چې د ولس نامتو مشران د دې شورا غړي وو، او په ټولو مهمو سیاسي، نظامي او دولتي چارو کې له دغو مشرانو سره یې سلا او مشوره کوله.

احمدشاه بابا هغه غښتلې او مدبر پاچا وو، چې په تُوره او مېړانه یې پولې ساتلې او په ډېر حساس تاریخي اکربکر کې دی وتوانیدو چې یو ځواکمن او متحد حکومت جوړ کړي، سیاسي او جغرافیوي پولې یې ورته وټاکلې او د افغانستان نوم یې پرې کېښود.

«**استاد حبیب الله رفیع** » زموږ د هیواد نامتو لیکوال او څېړونکي په خپله یوه لیکنه کې د احمدشاه بابا د فتوحاتو په تړاو داسې کښلي دي:

(( ... د هیواد په ختیځ کې یې د هند نیمه وچه لاندې کړه او د ډیلي پر تخت کښیناست، ایران ته پر توغ او نغاړه ولاړ او د هغه هیواد ډېرې برخې یې لاندې کړې، د ماوراءالنهر زیاتې سیمې یې ونیولې او له هغو ټولو یرغلګرو نه یې غچ واخیست چې تر ده وړاندې دوې دوې نیمې پېړۍ یې افغانستان ترمنځ ویشلی او د هیواد خلک یې ځورولي وژلي او د ازادۍ په جرم په خپلو پاکو وینو لنبولي وو...))

احمدشاه بابا په آسیا کې د مسلمانانو لپاره یوازینی ستر زعیم بلل کېده، له ده پرته له بل چا څخه د هندوانو د خطرونو د تمبولو هیله نه کېده دا د تاریخ هغه غم لړلې شیبې وې چې د هند مسلمانان د هندوانو له لاسه په خپلو وینو کې رغړیدل او ټولو د امید سترګې احمدشاه بابا ته راکږې وې.

لنډه دا چې احمدشاه بابا هغه باتوُر، غښتلی، ځواکمن او پیاوړی ملي اتل وو، چې په خپله واکمنۍ کې یې **(لس) پوځي سفرونه** کړې دي او هیڅکله هم د جګړې د ډګر څخه ندی تښتیدلی چې ډیره مشهوره جګړه یې د پاني پټ جګړه ده.

په رښتیا سره چې احمدشا بابا د ننګ و غیرت په ډګر کې یو توریالی او زړه ور او د توُرې او عمل غښتلی او نامتو اتل وو. دی د ټینګ عزم، لوړ همت، سربښندنې، عدالت او انصاف، د هیواد پالنې او د یوالي او ملي وحدت سیمبول وو. اسلامي مقدساتو ته یې درناوی کاوه او همداسې د ډیرو عالي صفاتو او خصایلو خاوند شخصیت وو. دی نه یوازی په هیواد کې د ننه بلکې په نوره نړۍ کې هم شهرت لري.

د احمدشاه بابا د څو اړخیز شخصیت په تړاو په هیواد کې د ننه او بهر یو شمېر تاریخ لیکوونکو، پوهانو، څیړونکو او محققنو ګڼ شمېر کتابونه لیکلې دي ، چې هر یو یې پر خپل ځای ځانګړی ارزښت لري.

د هندوستان پېژندل شوي لیکوال او تاریخ لیکوونکي «**داکتر ګنداسنګ**» په خپل یوه لیکنه کې داسې کښلي دي :

((... د ډېرو زيار گاللو په نتيجه کې د احمدشاه ابدالي تاريخ دومره د تاريخ د مينه والو پام ور اړولی چې د حقيقت په پلوشو کې د احمدشاه د شخصيت ټول بُعدونه، افغانيت، پتمني، زړه ورتيا، توره، علم، عدالت او . . . نور په سمه توگه ليدلای شي...))

او همداسې زموږ د هيواد نامتو او پياوړی ليکوال او څېړونکي «**ارواښاد غلام محمد غبار**» په خپل يو تاريخي اثر **(افغانستان در مسير تاريخ)** کې داسې ليکي:

(( .... احمدشاه را بواسط خدمات و اخلاق و تقوای شخصی او پدر ميخواندند وغازی خطاب ميکردند. زيرا احمدشاه تنها پادشاهی بود که در افغانستان تاج بر سر نمينهاد، دستار ميبست و چپن و موزه ميپوشيد و در عوض تخت بر زمين مفروش می نشست. او مستقيما با مردم در تماس ميشد، با تواضع و پيشاني گشاده سخن ميزد، در حل و فصل قضايا انصاف را مدنظر ميگرفت، و در عين حال از قوانينی که خود گذاشته بود، جدا پيروی مينمود. احمدشاه در طول سلطنت خود به عياشی و تجمل نپرداخت و حريص نبود. او در هيچ جنگی از مقابل دشمن فرار نکرده بود، و در برابر اهالي، کشور متواضع و ملايم بود. مثله (قطع اعضای انسانی) را در مجازات، و خشوع و خميدن را در تشريفات، تحريم نمود. او خانواده و اقارب خود را از مداخله و اشتراک در امور دولت دور نگهداشت ... )).

د پورتنيو ليکوالو او څېړونکو د ليکنو پر لاسوند په ربښتيا سره چې احمدشاه بابا څو اړخيزه شخصيت درلود. دی يو نامتو، پياوړی، ملي او غښتلی اتل، پاک او

سپیڅلی انسان، دروند، مهربان، متدین او رښتینی مسلمان، مینه ناک، زړه سواندی، با وقاره، د لوی زغم او سپیڅلي احساس خاوند، بی کبره او خوا خوږی انسان وو. دی د تقوا او پرهیزګاری دروند شخصیت، د سړې سینې او لویې حوصلې خاوند وو. ده د خپل هیواد او هیواد والو سره، د انسان او انساني کرامت سره سپیڅلې او ژوره مینه درلوده.

احمدشاه بابا نه یوازې په تُوره او میړانه کې یو کلک عزم او لوړ همت درلود، بلکې **د شعر او شاعری** بازار یې هم تود ساتلی وو.

احمدشاه بابا زموږ د هیواد په غوړیدلي تاریخ کې او د ادب او فرهنګ په ډګر کې د تُورې او قلم د خاوند په توګه پېژندل شوی او ستایل شوی دی.

ده نه یوازی د خپل تورې عزت او حیثیت او د قلم فضیلت په ډیر ځوانمردي، بهادري او میړانې تر پایه پورې وساته خو د نورو لیکوالو، ادیبانو او شاعرانو علمي، ادبي او فرهنګي ډګر یې هم تود ځلانده او ښېرازه ساتلی وو.

**د احمدشاه بابا په اشعارو** کې د تصوفي او اخلاقي اړخ څخه را نیولی تر عشقي، حماسي، ملي، ټولنیز، او د هیواد او هیواد والو سره د ژورې مینې تر کچه پوری د شعر په ساده او روانه ژبه ډیر ښکلي او په زړه پورې انځورونه نغښتې دي. د بېلګې په توګه د ده له دیوان څخه چې **(۲۵۰۰)** بیتونه لري.

**د بېلګې په توګه د احمدشاه بابا د شعرونو دا بیتونه ګورو:**

په اشنا به خبر نشم          څو خبر نه شم له ځاته

که د خپلې خودۍ تیر شم　　خود به زه شمه مراته

معرفت به مې روزي شي　　که فاني شم و فنا ته

دا د یار مینه خوږه ده　　چې پریکړې سر د زیاته

***

او یا وایي:

زما په مخ که دا څه تېرېږي　　بحر د زړه مې په مخ بهېږي

اوښکې له سترګو مې په مخ روانې دي　　که د زړه وینې دي چې راچلېږي

***

او یا وایي:

علم ګوره څرګنده لوی دریاب دی　　بیا هم دی را بهېدلی په څو باب دی

دا د علم دریاب هر چېرې محیط دی　　علم زده کړه چې د عمل لوړ جناب دی

***

او یا وایي:

شیرین عمر چې تیریږي دریغه دریغه　　د اوبو په څېر بهیږي دریغه دریغه

ولې زړه په خبرنه دی له رفتنه　　چې داهسې ژر تیریږي دریغه دریغه

ولې هسې سوې بې غمه زما دله        عمر باد غوندې چليږي دريغه دريغه

دا ياران لکه ګلونه د بهار دي        د خزان په تاو رژيږي دريغه دريغه

احمدشاه به څه هوس کا وخت د غم دی        د بېلتون نوبت رغيږي دريغه دريغه

***

او يا وايي:

ستا دعشق له وينو ډک سوه ځيګرونه        ستا په لاره کې بايلي زلمي سرونه

تاته راسمه زړګی زما فارغ سي        بې له تامې انديښنې د زړه مارونه

که هرڅو مې د دنيا ملکونه ډير سي        زما به هېر نه سي دا ستا ښکلي باغونه

د ډيلۍ تخت هېرومه چې راياد کړم        زما د ښکلې پښتونخوا د غرو سرونه

***

او يا وايي:

پر ننګ مړ خو څه مړ نه دی        د بې ننــګه ژونـد جفــا ده

لاس بـه وانـه خلم لـه ننګه        که پر ننګ پاتــه دنيـا ده

***

او يا وايي:

چې برکړی مې خدای لاس په رقیبانو          ترو به زه د هند په لور په تماشه ځم

چې د هند د ملکو فتحه مې روزي سوه          نور ایران لره په توغ په نغاره ځم

پر راکړي داد دې خدای نه سي پښېمانه          ترنگین مې ایران لاندې شاهانه ځم

***

او یا وایي:

چې را یادې تورې زلفې سپین رخسار د خپل جانان سي          بې له یاره مې په مخ باندې د دوو سترگو باران سي

په لمبه باندې د عشق یې چې وینم زړه بریان سي          چې رایاد د یار لبان کړم باندې پروت یې سور پېزوان سي

زه بلبل غوندې د فکر په خوب دارنگه یم تللی          چې رخسار به د یار کله د لاله په دود خندان سي

زړه مې تږی د دیدن دی و دیدن ته آرزومند دی          که مې تږی زړه سېراب ستا په کوهي د زنخدان سي

دواړه لاس به له هوسه زه خپل سره کړم په نکریزو          که یو ځلې مې په لاس کښې ستا خوشبوی زلفې ریحان سي

دغه اور به په دوو سترګو زه قبول کړم که پرې سوزم کشکې داغ مې دواړه شونډې په اور ستا د سره لبان سي

زه (احمد) به له دې هسې پټو ګواهو چېرته تښتم چې را باندې يې دوه وروځې څلور خاله ګواهان سي.

***

او يا وايي:

د زړه فرياد مې له جدايۍ اور مې ورک نه سي د اشنايۍ

چې پر وطن وي زړه څه قرار وي يم بې طاقته په پردېسۍ

***

همداسې نور بيتونه...

احمدشاه بابا هغه نوميالی پاچا او بريالی فاتح وو، چې د علم، ادب شعر او شاعرۍ سره يې ژوره مينه او لېوالتيا درلوده او د خپل تورې او قلم له لارې يې د علماوو، اديبانو او فرهنګيانو بانډارونه او مجلسونه تل تازه او ښېرازه ساتلي وو. ده په پښتو، دري-پارسي او عربي ژبو اشعار ويلي او آثار يې ليکلي دي. د ده دا درې اثره د زمانې له حوادثو او پېښو څخه خوندي پاتې شوې دي. نښيرونه (آثار) يې دا دي:

**- د احمدشاه بابا د پښتو ژبې د اشعارو بشپړ ديوان.**

- **علم گنج** – دا نبنير (اثر) اته بابه لري. د دې کتاب د شرح يوه قلمي نسخه د کابل د اطلاعاتو او کلتور وزارت په خطي کتابتون کې شته.

- **د احمدشاه بابا عربي اشعار** ـ او همداسې نور...

د احمدشاه بابا د علمي او ادبي نبنيرونو (آثارو) ارزونه او پلټنه ځانته جلا بحث او څېړنه غواړي. په دې برخه کې د پورتنيو خبرو پر لاسوند بسنه کوم.

کله چې احمد شاه بابا له سفره کندهار ته راغی، د ناروغۍ له امله پر **(۱۷۷۳)** زېږديز کال کې د درملنې لپاره مشهد ته ولاړو خو کله چې بېرته راستون شو، نو ډېر ضعيف شوی وو، په يوه مهمه جرگه کې يې د دولتي مشرانو په گډون «**شهزاده تيمور**» خپل وليعهد وټاکه. د جرگې غړو هم د احمد شاه بابا له ليد سره همغږي وښوده. د څو ورځو په تېريدو سره د احمد شاه بابا ناروغي او درد زيات شو او د **(توبې)** د غره په لور چې هلته تازه، سړه او پاکه هوا وه ولاړو. احمد شاه بابا د توبې په غره کې د جمعې په شپه د رجب د مياشتې په شلمه په **(۵۰)** کلنۍ کې په حق ورسېدو. د خرقې مبارکې تر څنگ په خورا درنو مراسمو خاورو ته وسپارل شو.

**اروا يې ښاده او وياړلی ياد يې تلپاتې غواړم.**

په ډېر درنښت او مينه: انجنير عبدالقادرمسعود

***